

# د ستر نومیالي، ویاړلي، فرهنګی، ادبي، سیاسي او مبارز شخصیت خوشحال خان بابا په هکله یو څو خبرې

اروابناد خوشحال خان خټک د شهباز خان زوی چه د پښتنو یوې قبیلې (خټکو) مشر او سردار، د یحیی خان لمسی د ملک اکوړه کړوسی ؤ.

دی د پښتو ژبې د ادبي، فرهنګي شخصیت په توګه یو لوي او وتلی لیکوال پیاوړی او غښتلی شاعر او د تورې او میړانې اتل ؤ.

دی د خټکو په یوه لویه او درنه کورنۍ کې په (۱۰۲۲) هجری قمری کال کې د (سرای) نومې ځای کې زیږدلی دی، او د (اټک) د مست او څپاند سیند په غاړه لوی شوی دی.

خوشحال خان خټک په یوه شتمنه کورنۍ کې زیږیدلی او روزل شوی ؤ، پلار او نیکه یې تر ملک اکوړه پوری ټول خانان او قومي مشران وو، او د هندوستان د مغولي دولت په خوښه ملک اکوړه د وریښمو د تاریخي لاری ساتندوی ؤ. وروسته د شهباز خان له مرګه دا کار د خوشحال خان په برخه شو.

خوشحال خان خټک تر شل کلنۍ پورې ډیر کتابونه ولوستل، دده د شعر ویلو سرشار استعداد هم د اباسیند په څیر په څپو راغی او د زیاتې پوهې خاوند شو او هم یې په شل کلنی کې په شعر ویلو پیل وکړ.

دی په پښتو او پارسی ژبی ښه او اوچت شعرونه لري، عربی، پارسی او انګو ژبې یې ډیری ښی زده کړی وی. ده د پښتو نثر، د شعر له رنګه راویست او د محاوری رنګ ته یې نژدی کړ. دده په شعر او نثر کې د پښتنولي احساس پروت دی، نو په دی لحاظ کولای شو ووایو چې دی مستحق د استاذۍ او مشری دی، او د پښتو ژبې پیاوړی نثر لیکونکی، وتلی لیکوال، پوخ شاعر، مؤرخ، څیړونکی او نامتو مؤلف ګڼل کیږي.

ښاغلی محمد کاظم آهنګ چې یو ادبي، فرهنګي څیره او د افغانستان دمجلی مدیر ؤ، د خوشحال خان خټک د ادبي او فرهنګي شخصیت په هکله په خپله یوه لیکنه کې داسې وایي:

خوشحال خان خټک، ادیب نامور، مرد آزاده و شاعر خوش کلام نه تنها در زبان پښتو داد سخن داده و مکتب جدیدی در شعر بنیان گذاشته است بلکه در زبان دری نیز سخن آفرینی ها نموده است.

په همدی لیکنه کې په بل ځای کې د خوشحال خان د خواږه او په زړه پورې کلام حکمت او پوهه داسې ستایي:

مختصر اینکه تشبیهات لطیف، کنایات نغز، کلمات زیبا، اسلوب روان و ساده توام با عمق و پختگی در اشعار دری خوشحال خان خټک موجود است. که این موضوع وقوف و رسایی اورا منحیث شاعری در زبان غیر از زبان اصلی او ثابت میسازد و البته باید گفته شود که رسایی او مثلیکه خودش میگوید مانند زبان اصلی او نیست ولی با آنهم کلام دری او با لطافت ها و نازک خیالی های ادبی آمیخته بوده در کلام خود ظرافتهای ماهرانه شعری و ادبی را بکار برده است.

د خوشحال خان خټک ژوند او آثارو دقیقه څیړنه او مطالعه د ډیر وخت غوښتنه کوی. زه غواړم چې په ډیر لنډیز سره د ده قلمي لیکنې او کتابونه چې خپاره شوي دي معرفی کړم.

مستر راورتی نامتو ختیز پوه د ده آثار له (۲۵۰) څخه هم زیات بولي. دده مشهور آثار دا دي:

- کلیات: په دی کتاب کې نږدې (۴۰) زره بیتونه ځای په ځای شوي دي.

- د پښتنو تاریخ: په دی اثر کې یې د پښتنو د اتنیکي او نسب په باب څرګندونې او څیړنې شوې دي.

- دستار نامه: چي د ملي افغاني احساس د اغيز لاندی ليکل شوی ده او د دستار او لونګی په اړوند مسايل پکي راغلي دي.

- عيار دانش: د انور سهيلی پښتو ژباړه ده.

- فضل نامه: په دی کتاب کي د ديني او فقهي مسايلو په هکله څیړنې شوې دي.

- طب نامه يا صحت البدن: په دی اثر کي د صحت او روغتيا مسايلو په اړه څيړنې شوي دي او د مختلفو ناروغی لپاره پکي ډير ښه دارو او درمل ښودل شوي دي.

- سوات نامه: په دی اثر کی د سوات جغرافيي، اقتصادي، سياسي، کلتوري او ادبي حالات بيان شوي دي.

- باز نامه: په دی اثر کي د ښکار په اړه يو سلسله معلومات راغونډ شوي دي.

- فرخ نامه: په دی اثر کي د توري، ميراني او قلم بحثونه شوي دي.

- فراق نامه: په دی اثر کي د خوشحال خان هغه شعرونه چي ده په جيل کي ليکلی دي ځای په ځای شوي دي.

- اخلاق نامه: په دی اثر کي د اخلاقو او انساني سلوک په باب معلومات وړاندی شوي دي.

- آينه: په دی کتاب کي د فقهي افکار په هکله معلومات بيان شوې دی.

- بياض: په دی کتاب کي د نثر په اړه معلومات راغونډ شوي دي.

- د خوشحال رباعيات: په دی اثر کي په زړه پوري ځلوريزي را غونډي شوې دي.

- تفسير سوره يوسف:

- پښتو هدايه: دا اثر له عربی ژبی څخه ژباړل شوی دی.

- زنځيری: دا اثر د ليکدود په اړه ليکل شوی دی.

- رياض الحقيقت: دا د نثر کتاب دی په دی کتاب کي د پرهيزګاری په هکله معلومات را غونډ شوی دی.

دا هغه آثار دي چې معلوم، مشهور او په لاس راغلی دي، خو په سلګونو نور آثار یې هم شته چې ورک شوي دي.

که چیرې د خوشحال خان خټک آثار په دقیقه توګه ولولو څر ګندیږي چې دی د خپل وخت د مروجو علومو لکه: فلسفه، منطق، حکمت، طبابت، تفسیر، فقه، حدیث، معانی، عروض، بیان . . . او داسی نورو علومو سره بلد ؤ.

هغه خدمتونه چې خوشحال خان خټک د پښتو ژبې ادبیاتو ته کړی دي ساری نه لري او ده د نوم د تل له پاره زموږ د پښتوادبیاتو د تاریخ په آسمان کې روښانه او ځلیدونکی دی.

د ده د آثارو څیړنه او د ده ادبي، فرهنګي او ملي شخصیت د هېواد په محدوده کښې محدودنه دی پاتې شوی، په نړی کښې د لویو پوهانو او پوهنیزو مرکزونو له خوا د یو علمي، ادبي، تاریخي او سیاسي مشر په توګه ستایلی او منلی شوی دی. ده د یوستر مفکر، مؤلف، عالم، فاضل، محقق، مؤرخ، لوی شاعر او ادیب په توګه پوره شهرت ګټلی دی. دده د ژوند، ملي، فرهنګي شخصیت او آثارو په هکله ډیری زیاتی لیکنی شوې دي، د هېواد او باندنیو لیکوالانو او څېرونکو خپلی علمی څېړنی ورباندی کړی دي. د نړی ډیرو پوهانو دده آثار لوستي او ژباړلي دي.

زموږ د هېواد ځلیدونکو ستورو لکه: پوهاند عبدالشکور رشاد، پوهاند صدیق الله رشتین، پوهاند عبدالحی حبیبي، استاد ګل پاچا الفت، امیر حمزه شینواری او داسې نورو وتلیو او نامتو پوهانو او لیکوالانو د ده په هکله کتابونه، مقالی او د ډاکتری تیزیسونه لیکلي دي. دی د یو لوی مبتکر شاعر، د یو ملي لیډر په حیث، او ملي اتل، او بشر دوست انسان په څېر نه یوازی په هېواد کې دننه، بلکې په سیمه او نړی کې هم د لویدیځو او ختیځو پوهانو او لیکوالانو له خوا پیژندل شوی دی.

د ده په هکله جارج مارګنسټرن، سراولف کیرو، پروفیسور میکنیزي، مشهور ختیځ پوه راورټي، ډامسټیټر، ګرکیسیون، بیدولوف، ډاکتر کریسن، روسي ختیځ پوه او افغان پوه اسلانوف، نیکولای دوریانکوف، سونخیف لولف، پادري هیوز، ډورن، الفنستن او داسې نورو پوهانو او ختیز پیژندونکو هم ډیری مقالې لیکلې دي او څیړنې یې پرې کړی دي.

لنډه دا چې د خوشحال خان آثار او د ده د لوی ادبي او اتل شخصیت پیژندنه په انګیسي، روسي، ډنمارکي، هندي، اردو او دري ژبو ژباړل شوي او خپاره شوي دي.

خوشحال خان خټک د هېواد د یوغوره نومیالي شخصیت په توګه تل د خپل هیواد، ولس، او د آزادی، د پښتنو د یوالي، افغاني اتحاد او اتفاق، د توري او میراني سره ډیره مینه در لوده او د انسانیت او

انساني كرامت احترام يې کاوه او دده په غزلياتو، قصيدو، رباعياتواو نورو متفرقه آثارو کې د انسان او انسانيت په هکله ډېر شيان ليکل شوی دي او ټل يې هڅه کړی چې هېوادوال يې هوسا، بسيا، آباد او آزاد ژوند ولري. دی د انساني غوره صفتونو خاوند، يو درويش صفته انسان او د درويشانو او قلندرانو خصوصيات لرل او يوسخاوت مند انسان ؤ. لکه چې وايي:

نيستی هستی ده که ته پوهيږې

لويي پستی ده که ته پوهيږې

بده تر هر څه په دا جهان کښی

خود پرستی ده که ته پوهيږې

=====================

وګړی واړه کارونه خپل کا

مردان هغه دی چې کار د بل کا

څوک چې آرام ګټی د نيکو نام ګټی

د خوږو زړونو دارو به ټل کا

بيا وايي:

سخاوت مې د تقليد په رسم نه دی

زه له ځايه د سخی بابا پسر يم

د حاتم غوندې مې خيل و حشم نشته

په عطا کښې له حاتمه برابر يم

دی د توريې، ميرانې، شرافت، راستی، تقوا، لوړتيا او پوهنې ځلانده او روښانه ستورې ؤ. لکه چې وايي:

په جهان د ننګيالی دی دا دوه کاره

يا به وخوری ککری يا به کامران شی

بيا وايي:

څو وانخلی له غليمه انتقام

مرد نه خوب کا نه خوراک کا نه آرام

=====================

يا عاشق شه، يا شهيد

چه ياديږی په بدلو په سندرو

او بيا وايي:

درست ديوان مې لکه باغ د علم ګنج دی

پکښې شته هر راز ګلونه هر نهال

========================

ډير دی کتابونه مشتمل په ديرشو حرفونو

کل واړه که ګوري له الفه دی زوولی

د هندوستان د مغلو مقتدر او سر کښه دولت هر وخت د پښتنو د استعمالولو او اسارت په لاره کې له زر، زور او زاريو نه نيولې بياتر دسايسو پوری له هر ډول وسايلو نه په ډير مهارت او عالی شکل کار اخيسته. کله چې شاه جهان په ناروغۍ اخته شو او مړ شو وروسته له ده له مرګه د ده زوی اورنګ زيب په قدرت ورسيده. کله چې اورنګ زيب خپل حکومت کلک کړ نو ورته معلومه وه، چې خوشحال خان د يو توريالي سرباز په توګه ده ته سر نه ټيټوي او دده دوست نه شی کيدای. اورنګ

زیب د خوشحال خان سره تماس ونیوه او ده ته يي وويل: ستا کورنۍ، ستا پلار او نیکونه ټول خانان او قومي مشران وو، او ستا پلار زما په دربار کې ډير قدر او عزت درلود، خو پام کوه چي پښتانه د مغلو په مقابل کې سر در ځخه پورته نکړي.

مگر خوشحال خان هغه عشق او احساسات چي د خپل هيواد، پښتنو او ولس سره لرل دده خبری ته غوږ و نه نيوئ.

خو د وخت په تيريدو سره د خوشحال خان محبوبيت په خپله قبيله کې زياتيده او روابط او تماسونه يي د نورو پښتنو سره لا پياوړي کيدل او د دوی سره يي اړيکی ټينگی ساتلی وی.

دی د دوی په فرهنگي، کلتوري، اجتماعي او سياسي خصوصياتو، ارتباطاتو، دودونو، لهجو، عادتونو، متلونو او اصطلاحاتو باندی آشنا ؤ. له همدی کبله ده د خپلو مطالعاتو او ځيرنو په اساس د پښتنو د تير تاريخ په تيره بيا په هند کې د افغانانو له سياسي کارنامو سره ځان پوره بلد کړی ؤ.

دا ښکاره وه چي اورنگ زيب خوشحال خان ختک د يوه نه پخلا کيدونکي دشمن په توگه پيژندلی ؤ، او د ده ظالم حکومت د خوشحال غوندی شخصيت نه شو منلی. اورنگ زيب د مغولي دولت د زمامدارانو په مشوره خوشحال خان نو هغه وو چي په نامردانه ډول گرفتار او وروسته له څو مياشتو دی يي د هند د (رنتبور) په جيل کې بندي کړ. دی څلور کاله بندی ؤ. او ده په دغه جيل کې زيات آثار هم وليکل لکه:

دستار نامه، ترجيح بند، ترکيب بند او داسی نور.

دا بند د خوشحال خان په ژوند کې داسی يوه حادثه وه چي دی د مغلو مرکزی حکومت له استعماري ماهيت او د هندوستان د خلکو له عام خصوصياتو سره نور هم بلدشو او ده په خپل سياسي افکارو کې مکمل بدلون راوست او ده خپله لاره په شعوري ډول وټاکله او د مغلو په ضد يي توره پورته کړه او داسی يي وويل:

پس له بنده دی دا عزم --- د خوشحال د خاطر جزم

يا نيولی مخ مکی ته --- يا مغل و سره رزم

او رښتيا هم له بنده وروسته تر مرگه پوری خوشحال خان د مغلو سره پخلا نه شو او خپلي مبارزې ته يي د اورنگ زيب پاچا په مقابل کې دوام ورکړ.

خوشحال د ختکو خان د یوسفزیو سره جوړه وکړه او خپله توره یې یوازی د ختکو قبیلي دپاره نه بلکه د ټول افغان د پاره راویستله. لکه چې وایي:

که توفیق د اتفاق پښتانه مومي

زوړ خوشحال به دوباره شي په دې ځوان

بیا وایي:

چه درست ګلزار دی د اتفاق دی

چه درست خار زار دی ګنده نفاق دی

د ده ننګ او غیرت، وطني عشق او احساسات او انقلابي طبیعت څپی ووهلی، د هند د مغولي حکومت د غورځولو لپاره یې د افغان د ننګ توره پر ملا کړه او په لوړ غږ یې وویل:

دافغان په ننګ می وتړله توره

ننګیالی د زمانی خوشحال ختک یم

یا وایي:

لا تر اوسه په لرزه پریوزی له کټه

چا چې ما سره وهلی سر په سنګ دی

په رښتیا چې دی یو توریالی او زړور او د توري او عمل قهرمان د وطن په غم غمجن او د پښتو په درد دردمن او یولوی، پیاوړی او ملي شاعر ؤ.

ده نه یوازی په توره او میرانه کې یو کلک عزم او لوړ همت درلود، بلکې د شعر او شاعری بازار یې هم تود ساتلی ؤ. د خوشحال قلم خوشحال خان ته ابدي ژوند وربه برخه کړ. کولای شو ووایو چې د پښتو ژبه او ادب ځکه بختور دی، چې د خوشحال خان په څېر نامتو او مفکر انسان یې پخپله غیږ کې وروسته له پیر روښان څخه وروزه. دغې ستر ادیب او لیکوال او پیاوړي شاعر نه یوازی په خپل کړکیچن ژوند کې د توري او میراني غږ پورته کړ، بلکې په ادبي او فرهنګي ډګر کې په هیواد کې د ننه او بهر د توری او قلم د خاوند په توګه پیژندل شوی او ستایل شوی دی. لکه د خوشحال خان په

ځېر ستر شخصیتونه په نړۍ کې ډېر کم پیدا کیږي چې هم شاعر، هم لیکوال، هم څیړونکي، هم مفکر او مؤلف، هم ژباړونکي، هم سیاسي لیډر د خپلو خلکو او د میړانې او تورې خاوند وي.

ده د تورې شرافت او حیثیت او د قلم فضیلت په ډېر شهامت او میړانې تر پایه پورې وساته. د ده آثار او اشعار د پښتو ادب په آسمان کې ډېر ځلانده او نه ورکیدونکي ستوري دی. ده په خپلو آثارو کې خپل ولس ته میړانه، ټینګ عزم، غیرت، لوړ همت، سرشیندنی، شجاعت، ننګ، وفاداری، صمیمیت، دوستی، سپن ویل، عدالت، انصاف، وطن پرستی، ملی اتحاد، یوالی، کار او زیار، اسلامي مقدساتو ته احترام کول، کلتور، اخلاق، تربیه او داسی نور ډیر صفات او عالی مفاهیم ورښودلی دی.

ده د تصوفي او اخلاقي اړخ څخه را نیولی تر عشقي، حماسي، اجتماعي، فلسفي جنګي، او د وطن د محبت او مینی تر کچه پوری په خپلو اشعارو کې د دغو اجتماعي خصوصیاتو او اوصافو او عالی افکارو انعکاس د شعر په لباس کې نغښتی دی، او د هر چا په ذوق برابر شعرونه یي ویلی دی. د ده اشعار د عواطفو او پاکو، سپیڅلو احساساتو هینداره ده او دخپل ادب په بڼ کې یي رنګارنګ ګلان کرلي دي.

(اقبال لاهوری) چې یو پیژندل شوی شاعر دی د خوشحال خان ختک د پوهی او حکمت زړورتیا، میرانی، سپین ویل او ټینګ عزم په هکله داسی وایي:

آن حکیم ملت افغانیان--- آن طبیب علت افغانیان

راز قومی دید و بی باکانه گفت ---- حرف حق با شوخی رندانه گفت

خوش سرود آن شاعر افغان شناس ---- آن چه بیند باز گوید بی هراس

دی د پښتو ادب یو ملي شاعر، مؤلف او مفکر، څیړونکی، ژباړونکی او د ننګ د ډګر قهرمان دی. دی نه یوازی په هیواد کې د ننه بلکي په نوره نړۍ کې هم شهرت لري او د یورپ خلکو ورته د یو ملي، قومي لوی شاعر او لیکوال خطاب ورکړی دی.

د دی ستر شاعر، نامتو پهلوان، د توری او قلم اتل او پیاوړي زعیم آثارو په هکله ژور علمی او مختلف مطالعات او څیړني شوي دي.

د خوشحال خان ختک (دستار نامه) یو مشهور او منثور اثر دی، چې د ملي افغاني جذباتو او احساساتو د تاثیر لاندی لیکل شوی دی.

(دستار نامه) یو سیاسي او تربیوي کتاب دی، خوشحال خان خټک د دی کتاب په هکله لیکلی دي: (شل) هنره (شل) خصلته چه اختیار شوی دی په دوه بابه کښی به واضیح شی:

اول په کښی د ځان پیژندګلوي ده. بیا ورپسی هنر دعلم دی بیا ورپسی نور کسبونه فنونه حرفتونه دی.

د (دستار نامه) په باب ښاغلی سمندر خان سمندر د کتاب په مقدمه کښي لیکلي دي:

(د خوشحال دستار نامه په حقیقت کښی د عزت، حرمت او سړیتوب درنه پګړی ده. که څوک د (دستار نامي) په معیار دغه (شل) هنره او (شل) خصلته نه لری نو د قام د مشری د دستار تړلو قابل نه دی. )

خوشحال خان خټک په دی کتاب کې د پښتون ملیت او ولس ویښول د دوی عیبونه وربښودل او دوی په شعوري لحاظ د وطن، استقلال، خپلواکی د مینی سره آشنا کول او د قومي مشری او سیاسي پوهې او ملي احساساتو، وطن دوستی اوملیت پروری مختلف اړخونه تشریح کړی دی. دی غواړي چې وښي لاربښوونکی او نمونه پښتون باید څنګه وي. نن ورځ د نړی سیاست پوهان د یو خپلواکه دولت سیاسي رهبری ته ډیر اهمیت ورکوي. ځکه چې د یو ټولنی مشر د هغی ټولنی د استقلال، خپلواکی او د خلکو لاربښوونکی دی. خوشحال خان د واقعی مشرانو په هکله ډیری خبری لري اووايي:

چه د ستار تړي هزار دي

د دستار سړي په شمار دي

خوشحال په دی بیت کې پګړی، خولۍ او تاج د یو انسان د سړیتوب مقام، غوره اخلاقو عاداتو، کلتور او فرهنګ سمبول ګڼي او وايي: دستار هغه څوک باید په سر کړي چې قابلیت یي ولری. دا یوه په زړه پوری نصیحت نامه ده لوستل یي هرچا ته په کار دي.

د خوشحال د پیژندلو او آثارو په باب دومره مقالی او کتابونه چاپ شوي دي چې پای نه لري.

د دغي لیکني په آخر کې ویلی شم خوشحال خان د پښتو د ادبیات په تاریخ کې هغه لوی ملي، سیاسي، علمي، ادبي او نامتو توریالی شخصیت دی چې له مړینی نه وروسته یې په ټوله پښتونخوا کې ساری پیدا نه شوه. دی وايي:

د خوشحال قدر که اوس په هیچا نشته

پس له مرګه به یې یاد کا ډیر عالم

خوشحال خان په ژوند کي وصیت کړی ؤ چي ما په داسی ځای کي ښخ کړی چي د مغلو د آسونو د پښو ګردونه ځما په قبر رانشي.

د دی قهرمان او د توری او قلم سردار دا وصیت هم پوره شو.

دغه لوی شاعر او متفکر عالم او د میرانی او توږي اتل په (۷۸) کلنئ په (۱۱۰۰) کال کي له دې فاني دنیا څخه سترګي پټي کړې.

زه هم د هغه لوی ملي، ادبي، فرهنګي او علمي شخصیت ته د درناوی او ژور عقیدت سر ټیټوم او له لوی څښتن څخه هغه ته جنتونه غواړم. روح دی ښاد وی.

ستا د ښایست ګلونه ډیر دي

ځولی مي تنګه زه به کوم کوم ټولومه

## په ډیر درنښت: انجنیر عبدالقادر مسعود

په پای کي د تاسو پام د خوشحال خان بابا د یو څو عشقي، حماسي، ټولنیز، فسفي وطني، تصوفي، او اخلاقي شعرونو ته راګرځوم.



غزل

که مسجد ګورې که دیر ---- واړه دیو دی نه شته غیر

یو می بیا موند په هر څه کښې ---- چه می وکړه د زړه سیر

هغه ځای په سیر ګرزم ---- چه ترې نه رسیږی طیر

خوشحال یو وینی خوشحال دی ---- ورنه ورک دی غیر و زیر

غزل

لاله در موسم بهار بود

عیش با روی گلزار بود

با رخ و زلف او سرو کارم

در شب و روز روزگار بود

آهوی چشم تو چه آهویست

که در آن شیر نر شکار بود

رخ تو همچو نو شگفته گلیست

عندلیبان او هزار بود

قد تو در میان دیده ما

همچنان سرو جویبار بود

وقت آن خوش که بعد هجرانت

یار همچون تو در کنار بود

قصه درد ما چه میپرسی

حالم از چهره آشکار بود

همچو خوشحال عاشق رخ تو

نیست ممکن که در دیار بود

غزل

نو بهار و می معشوقه و جام است اینجا

زهد و پرهیز و درع را چه مقام است اینجا

قصه کوتاه که در مذهب ما ای صوفی

غیر می هر چه بود جمله حرام است اینجا

یارب آن مغبچه را هیچ گزندی مرسان

که برویش نگران خاص و عام است اینجا

پیشم از مشک ختا دم مزن ای مشک فروش

که پر از نکهت آن زلف مشام است اینجا

شاه من تند مران رخش که بس مردم شهر

بهر نظاره تو بر در و بام است اینجا

می نوازد می خوش لحن به جادوی نفس

آهوی کوه و بیابان همه آرام است اینجا

غزل

لبت از آب حیوان آب برده

رخت نور از رخ مهتاب برده

ندانم در دو چشم او چه جادوست

که از چشمان عاشق خواب برده

به تاب زلف و پیچ جعد مشکین

صبوری از دل بیتاب برده

گر آن بت را چو محراب است ابرو

منم چون سجده در محراب برده

بعارض دل به چشمان دین بلب روح

سلامت را همه اسباب برده

نه تنها دل ز خوشحال ختک برد

که زهد از دست شیخ و شاب برده

**غزل**

**چې مې ولیدې دا توريٍ سترګې ستا**

زه به نه کړم هېرې نورې سترګې ستا

یا د باز یا د طاوس یا د شاهین دي

یا د تور هوسي که ګورې سترګې ستا

لکه وژغوري کبلی په سنبل زار کي

د خواره اوربل تر سیوري سترګې ستا

لکه پټ سواره د جنګ نېزې په غاړه

دا اوږده بانه پرې پورې سترګې ستا

چې دې هسې و هر در و ته ولاړ کړ

د عاشق دی اور په کورې سترګې ستا

لکه څوک په میو مست شي هسې مست شي

زه چې ووینم میخورې سترګې ستا

چې دې غوښت هغه دیدن دی ورته ګوره

که خوشحال نه دي کورې سترګې ستا

غزل

عجایب سینګار یې وکړ بیا بلا کا

د چشمانو په کاته د زړونو غلا کا

معشوقې ته چې یې هومره حُسن ورکړ

دا په دا چې د عاشق خونه تالا کا

په هر ځای چې څو محبوبې سره کښېني

هغه ځای مې تر جنت ښایسته لا کا

دوه مین که سره هر څو، مرور وي

خپله مینه یې بیا زر سره پخلا کا

تور بانه یې تور توبري په زره څرخیږي

که راپورته محبوبا سترګې شهلا کا

څو د شاه په، ښکلي مخ باندې خالونه

ما به هم په هومره داغه مبتلا کا

همګي یې ستا له مخه ګفتګوی شي

چې دردمند وبله تول شي مشغولا کا

په خیر خیر یې مخ ته مه ګوره خوشاله!

په خاطر به دې د اور لمبې والا کا

غزل

که زه نه وای عشق به تالره بلل څوک

په پالنګ به دې دا هسې درختل څوک

واړه عشق دی چې یې سر راته ګیاه کړ

ګنه! زه په ځان مین، د سر ښندل څوک

چې پتنګ ته روښنایي د څراغ ښکاره شي

نور له څراغه نه یې غواړي جار وتل څوک

بدرګه که محبت راسره نه وای

یک تنها به په خونخوارو لارو تلل څوک

ددې میو پیالې دېرو دي اخیستې

ولې ما غوندې به نه وي لایعقل څوک

د زنخ په چاه دې بند د شونډو مست وي

روغ هوښیار به په کوهي کې پرېوتل څوک

ته پخپله راته ووایې چې وایه!

ګنه! زه، د مینې راز ښکاره ویل څوک

ته مې وژنه د قصاص اندېښنه مه کړه!

د خپل خون په تور به ونیسم یو بل څوک

ښه خو دا چې د چا نوم په کې یادېږي

په فاني دونیا به نه وي ژوندی تل څوک

تا پخپله سپینګ خوله خوشال ته ورکړه

ګنه دی، دا هسې شوندې ښکلول څوک

غزل

مرد هغه چې همت ناک، برکت ناک

له عالمه سره خوږ په زیست و ژواک

مخ یې مخ، قول یې قول، عهد یې عهد

نه دروغ، نه یې فرېب، نه تش تپاک

**لړ ویل ډېر يي کول په خاموشۍ کې**

**د غونچې غوندې خله ډکه، سینه چاک**

**چې خبره د پستۍ، د بُلندۍ شي**

**په لويۍ لکه آسمان، په پستۍ خاک**

**په تمکين کې لکه سبر، په سخا کې**

**په هر لور څانګې ږنګورې لکه تاک**

**لکه ګل شګفته روی تازه په باغ کې**

**همېشه د ښو بلبلو پرې بلغاک**

**چې دا هسې ښه ویل کا زه حيران يم**

**چې خوشال راوړ له کومه دا ادراک**

غزل

زه چې هسې په تعجيـــل او په شتـــاب ځم

خرابات لره په هيلـــــه د شـــــــــراب ځم

د ساقي د لاسه مـــــــی چې تتـــــاول کړم

بیا په بیارته به بېخوده مست خـــراب ځم

د ساقـــي د مـخ جذبـــــه مي مـخ ته بـولي

چې دا هسې میکـــــدې ته په ترتـــاب ځم

درد د درد مـي يـــې له خمـه دی نوشـــلی

اوس په هیله په امیـــــــد د می نـــاب ځم

چې مي نه شي بله یو سر بل سر ستـــــــرګي

له جهــــــــانه مخ پوښـلی په نقـــاب ځم

له دوو سترګو مي روان د اوښکو سیند شو

د دې سیند دپاسه زه لکه حبـــــــاب ځم

خوب وخور مي له خاطره فرامــــــوش دی

دجمال په خيال يي درسته شپه په خواب ځم

د محبـــوبې د جمـــال شغلـــي اتـــش دي

زه خوشحـــال يې له ليدلو زړه کباب ځـــم

غزل

بيا رباب د مغني ښه سرايت کا

په نغمه کې نوی نوی حکايت کا

شېخ دې کونج د صومعې زه به ګلګشت کړم

د بهار ګلونه ماته هدايت کا

ګدايانو لره غم د ګېډې ډېر دی

بادشاهان دې غم د ملک او ولايت کا

د وفا مهر، کرم به يې لا څه وي؟

په جفا کې چې دا هومره عنايت کا

په ماڼې يې هم خوشحال شم هم دلګير شم

لکه څوک چې له شکر و شکايت کا

دا زما د بخت اثر نه دی نو څه دی

له رقيبه چې شکوه په دا غايت کا

په دا شهر کې ښرګند شراب خرڅيږي

محتسب د باده نوشو رعايت کا

که د ښکليو د ديدن مينه ګناه ده

سکه خوشال ختک درست عمر جنايت کا

غزل

زه هم چېرې فرزانه وم، فرزانه يم لا تر اوسه

تل بېخوده دېوانه وم، دېوانه يم لا تر اوسه

جدايي نشته وصال دی، ځنې بعد هم خيال دی

له هغه چې همخانه وم، همخانه يم لا تر اوسه

چې راغلی په جهان يم، خبر شوی پخپل ځان يم

د رازونو خزانه وم، خزانه يم لا تر اوسه

په عالم زما خبرې، خلک کا په نژدې لرې

په وګړي افسانه وم، افسانه یم لا تر اوسه

چې د مخ پلو یې وا شو، یو مشال و چې نوا شو

هغه دم پرې پورانه وم، پروانه یم لا تر اوسه

ناوکي یې د مژګان دي، چې بلا زما د ځان دي

ورته عمر نښانه وم، نښانه یم لا تر اوسه

چې یې ځان سره اشنا کړم، له هر چا یې شاپه شا کړم

له عالمه بېګانه وم، بېګانه یم لا تر اوسه

هغه بحر چې محیط دی، په افراط او په تفریط کې

د، غه بهر دُر دانه وم، دُر دانه یم لا تر اوسه

هغه شان له خپله یاره، بې وکیله بې ریباره

زه خوشال چې یګانه وم، یګانه یم لا تر اوسه

غزل

ځو په باغ کې لا یو ګل د نوبهار شته

د بلبلو، د توتیانو پرې چغار شته

نن دې غم له مانه ځان ساتي که ښه کا

چې په سیل د بهار راسره یار شته

چې له یاره سره مست، د ګلو ګشت کړم

محتسب که رانژدې شي پیزار شته

شیخ ملا دې زما غم په بهار نه خوري

چې رباب او سرینده غونده غمخوار شته

نه به زه د میو جام کښېږدم له لاسه

نه زما له پارساییې سره کار شته

ما و خپلې پارسایی ته رخصت ورکړ

په دا نورو پارسایانو مې اوس ډار شته

ساقي! بیا زما د ښهر خبر واخله!

لا یو ځو په کوڅو پاتې پرهېز ګار شته

ګل و مل، ساز و سرود، ساقي سرې سترګې

**لا به ډېر عالم رسوا کا چي دا چار شته**

**چي په هر پیاله عقل له ما زدویي**

**د ساقي منت راباندې په بار بار شته**

**د ګلونو په موسم کي خوار هغه دی**

**چي یې نه پیاله په لاس نه یې نګار شته**

**نن هغه شاه جهان د زماني دی**

**چي دسته یې د ګلونو په دستار شته**

**چي نا اهل په غفلت ورباندې نه ځي**

**ځکه وصل د هر ګل په څنګ کې خار شته**

**د بهار زېبا ګلونه سوداګر دي**

**لخلخه به ځني پیري چي خریدار شته**

**نن خوشاله! د زړه داد د عشرت ورکړه**

**دا څو ورځي غنیمت دی څو ګلزار شته**

**غزل**

ما د ښکلیــــــو ننــــداره کړه، زاهــد ننګ کړ

ښه خو دا چي خدای دی هم زمـــــا په رنـګ کړ

هغه وخت چي را په یاد شي ډېر خوشحــال شم

چي به ما درته دعـــــــا کړه، تا به جنـــګ کړ

زمــا زړه یې په قـــــلاب د زلفـــــــــــو یوور

ورســــــــره یې اوده کړی په پالنـــــــــــګ کړ

که ژوندی نه شي له مرګـــه، عمر یې شوم دی

چـــې په خـــاك یـــې د پایلو باندې شرنـګ کړ

کښــــــلی مـخ یــې لکـــــه څراغ هسې بلیـــږي

خوار عاشق یې په دا څراغ باندې پتنـــګ کړ

ملنګـــــــان یـــې د دربار درویـــزه مومــــــــي

ما هم ځکه ځان د يار د ور ملنـــــــــــــگ کړ
ته له ځايــــــــه هسې نه وې دا څه حـــال دی؟

چـــې په ما باندې دې زړه دا هسې سنگ کړ

Thu, April 22, 2010 22:47

توجه!

کاپی و نقل مطالب از «اصالت» صرف با ذکر منبع و نام «اصالت» مجاز است

کلیه ی حقوق بر اساس قوانین کپی رایت محفوظ و متعلق به «اصالت» می باشد

Copyright©2006Esalat

www.esalat.org